


اوونیزه
ابادي
هفته نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۲۶ | مسلسل نمبر: ٦٨

شنبه، د ربیع الثاني ۹مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال


## ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا لس میلیاردو افغانیو په ارزښت یوشمېر پروژې منظورې کړې



۲ صفحه

## د انرژۍ سکټور د افغانستان اسلامي امارت په لومړیتوبونو کې دی او موخه یې په دې برخه کې پر ځان بسیاینه ده



۲ مه صفحه

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د طوطي میدان ګازو د اکتشاف او استخراج تړون لاسلیک شو



۴ مه صفحه





د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د طوطي میدان ګازو د اکتشاف او استخراج تړون لاسلیک شـو. دغه تړون د کانونو او پټرولیم وزارت او ازبیکستانۍ کمپنۍ ترمنځ د شاوخوا یو میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لسـو کالو له پاره لاسلیک شـو. د دغه تړون له مخې به قراردادي کمپنۍ په لومړي کال ۱۰۰ میلیونه او د لسـو کلونو په جریان کې یو میلیارد ډالره پانګونه کوي چې له استخراج شوو ګازو څخه به په لومړیو دوو کلونو کې ۱۰۰ میګاواټه برېښنا هم تولیدوي.

زموږ په هېواد کې د نفتو او ګازو زېرمې شته او د را ایستلو له پاره یې هلې ځلې د منځني ختیځ د نورو هېوادونو د نفتو له پلټنو سره هم مهاله پیل شـوې وې، خو د منځني ختیځ په هېوادونو کې دغو هلو ځلو نتیجه ورکړه، اما له بده مرغه زموږ هلو ځلو د اړوندو چارواکو د بې کفایتۍ، خیانتونو او د بهرنیـو یرغلونو او تاړاکونو او نورو بهرنیانو د خود غرضیو او شـومو موخو له امله څه پایلې نه دې لرلې. هر څه د کاغذ پر مخ پاتې شـوي او ټول وخت په پلټنو او راپورونو ورکولو تېر شـوی دی. اوس چې په افغانسـتان کې د اسلامي امارت تـر چتر لاندې یو مرکزي حکومت رامنځته شـوی دی، د هېواد د زېربناوو د رغونې ترڅنګ یې په مسلکي او معیاري ډول د کانونو را ایسـتلو ته هم لاس اچولی دی. کانونه په ځانګړي ډول ګاز هغه برخه ده چې که چېرې په سـم ډول مدیریت او زېرمې یې راوایستل شي، نو د هېواد اقتصاد ورسره پیاوړی کېږي. د ګازو له دې زېرمو څخه هم د فاریـاب د طوطي میدان ګاز دي چې شـاوخوا اووه زره کیلومتره مربع مسـاحت لري. د دې ګازو د اکتشـاف او اسـتخراج تړون له یوې ازبیکستانۍ کمپنۍ سره لاسلیک شو. د ګازو د اسـتخراج تړون لاسلیکېدل د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنـځ د اقتصادي او انرژۍ د همکاریو په برخه کې یوه مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي.

په دغه لس کلن تړون کې دوه مهم موضوعات شـته. یوه دا چې د تړون له مخې به ازبیکسـتانۍ کمپنۍ په لومړي کال کې ۱۰۰ میلیونه ډالره او تر لسـو کلونو پورې به ددې پانګې کچه یو میلیـارد ډالرو ته لوړوي. په دې سره به له یوه لوري هېواد ته بهرنۍ پانګه را جلب شي او له بل لوري بـه د همدې پانګې پر مټ صنعتـي او د انرژۍ زېربناوې وده پیدا کړي او په پایله کې به یې د کورني ناخالص تولید د تحـرک او ودې لامل وګرځي. بلـه موضوع داده چې د تړون له مخې به په لومړیو دوو کلونو کې له دې ګازو څخه ۱۰۰ میګاواټه برېښنا هم تولید شي. په دې سره به تر یوې اندازې د سیمې د اوسـېدونکو د برېښنا ستونزه هم هواره شي. په خلاصه ډول ویلی شـو چې دغـه تړون به له یوه لوري د بهرنۍ پانګې راجلبولو، اقتصادي ودې، کارموندنې او د هېواد د زېربناوو د پیاوړتیا لامل وګرځي او له بل لوري به د افغانسـتان او ازبیکسـتان ترمنځ دوه اړخیزې اړیکې پیاوړې او د سـیمې د انرژۍ په بازار کې به د افغانسـتان رول پیـاوړی کـړي. دا هغـه څه دي چـې کولای شي افغانستان د سیمې په کچه په یو مطرح هېواد بدل کړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديي اوونيزه
هفته نامه آبادی

## ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا لس میلیاردو افغانیو په ارزښت یوشمېر پروژې منظورې کړې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ، ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا لس میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۱۲ پروژو قراردادونه منظور او د ۱۵ هغو تعدیل کړل. د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د میزان میاشتي په ۱۴مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۳۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د ۱۲ پروژو قراردادونه منظور، د ۱۵ تعدیل، د یوې لغوه او د دوو پروژو د قراردادونو د قېمتونو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو له ګټونکو شرکتونو سره بیاځلي مذاکرات ترسره او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي.
په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کندهار، زابل او نیمروز ولایتونو د پوهنتونونو د لیلیو د ودانیو پاتې چارې بشپړول، د کندهار ولایت د احمدشاه بابا نړیوال هوایي ډګر بیارغونه، په بادغیس ولایت کې د قیصار – لامان ۲۵ کیلومتره سړک د پاتې چارو اساسي جوړونه، د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ د ریلي او غیر ریلي تاسیساتو بیارغونه، د کابل ښار ځینې داخلي سړکونه او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

## د انرژۍ سکتور د افغانستان اسلامي امارت په لومړیتونو کې دی او موخه یې په دې برخه کې پر ځان بسیاینه ده



افغانستان د اړتیا وړ برېښنا ډېرې برخه له ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي، په داسې حال کې چې د هېواد په دننه کې د انرژۍ سکتور د پراختیا لپاره پراخې سرچینې وجود لري.
د انرژۍ سکتور د هېواد په اقتصادي ثبات کې رغنده رول لري او اوسمهال په نړۍ کې ډېری هېوادونه د ژوند لومړنیو اساسي ضرورتونو ترڅنګ، د انرژۍ تامین ته هم خورا زیات ارزښت ورکوي او په دې تړاو د انرژۍ د تأمین لپاره خپلې ستراتیژۍ جوړوي.
افغانستان د انرژۍ پربمانه سرچینې لري، چې د اوبو، تېلو، ګازو او ډېرو سکرو له سرچینو څخه نیولې تر باد او لمریزو سرچینو پورې. په لمریزه برخه کې افغانستان د شاوخوا ۲۲۳ زره مېګاواټه برېښنا د تولیدولو ظرفیت لري.
د انرژۍ په سکتور کې د ځان بسیاینې نشتوالی زموږ د هېواد اقتصادي پرمختګ پر وړاندې ننګونه ده، له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت په دې برخه کې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو د جلب او جذب او د پانګونې لپاره اسانتیاوو برابرولو په برخه کې کوټلي ګامونه اخیستي دي.
د لمریزې برېښنا د تولید په برخه کې د عامه او خصوصي مشارکت د ماډل له مخې په کابل کې په ترتیب سره د ۱۰ مېګاواټه او ۲۲,۷۵ مېګاواټه برېښنا د تولید پروژو عملي چارې پیل شوې دي چې په نږدې راتلونکې کې به په نورو ولایتونو کې هم پیل شي.
له لمریزې برېښنا څخه د انرژۍ د تولید د دا ډول پروژو له عملي کېدو څخه د اسلامي امارت موخه؛ د انرژۍ ارزانه سرچینې تأمین، د ناکاره ګازونو د تولید مخنیوی، د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې مبارزه، د پایدارې برېښنا رامنځته کېدل، په هېواد کې د پانګونې لپاره زمینه برابرول، د اسعارو د وتلو مخنیوی، د کاري فرصتونو رامنځته کول او په لویه کې د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کول دي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلــو په برخــه کــي
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د طوطي میدان ګازو د اکتشاف او استخراج تړون لاسلیک شو



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني بـرادر اخوند په حضور کـې د روان لمریـز کال د میزان میاشــتې په ۱۹مه نېټــه د کانونو او پټرولیـم وزارت او ازبیکســتاني کمپنۍ ترمنځ د شـاوخوا یو میلیارد ډالرو په پانګونې سره د طوطي میدان ګازو د اکتشاف او استخراج لــس کلن تړون لاســلیک شــو. د دغه تــړون له مخې قــراردادي کمپنۍ په لومړي کال ۱۰۰ میلیون او د لســو کلونو په جریان کې یو میلیارد ډالره پانګونه کوي، چې له اســتخراج شــوو ګازو څخه په لومړیو دوو کلونو کې ۱۰۰ میګاواټه ګازي برېښنا هم تولیدوي.

د فاریاب ولایت د طوطي میدان ګازو زېرمې شاوخوا اووه زره کیلومتره مربع مســاحت لري چې د استخراج په پیل سره بــه یې تر ډېره حده د هېــواد د ګازو اړتیاوې پوره او زرګونو هېوادوالو ته به په مســتقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړي.

## معاون اقتصادی ریاست الوزراء کار عملی پروژه ۲۲،۷۵ میگاوات برق آفتابی را افتتاح نمود




محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاســت الــوزراء ۱۷م میزان ۱۴۰۳ خورشــیدی کار عملی پروژه ۲۲.۷۵ میگاوات برق آفتابی در ولســوالی سروبی ولایت کابل نزدیک بند نغلو افتتاح نمود.

در مراســمی افتتاح این پروژه شماری از اعضای محترم کابینه، ســفیر ترکیه در کابل، مســؤلین شرکت برشــنا افغانســتان، نماینده‌گان ســکتور خصوصی و شماری از هموطنان اشتراک ورزیده بودند.

محترم ملا صاحب در مراســمی که به همین مناســبت تدویر یافته بود در اشاره به ارزش انرژی پاک گفت، جای خوشی اســت که امروز در افغانستان یک پروژه‌ی انرژی پاک آغاز می شــود کــه نه تنها در بخــش حفظ محیط زیســت مقاومــت کشــور را افزایــش داده و نیازمندی افغانستان را مرفوع می ســازد؛ بلکه در پاک نگهداشتن اقلیم جهانی نیز به پیمانه لازم کمک می کند.

به گفته محترم ملاصاحب: «اینگونه پروژه های تولیدی بــرق میتواند به صورت تدریجی اتکای ما بر برق وارداتی کاهش داده و در داخل کشــور از منابع موجوده نیازمندی های خود را مرفوع سازیم.»

معاون اقتصادی ریاســت الوزراء افزود، عملی ســاختن اینگونه پروژه هــای تولید برق، مقــدار سرمایه‌گذاری، ظرفیت تولیدی و سطح استخدام را بلند میبرد و همچنان از بیرون شدن اسعار از کشــور جلوگیری خواهد کرد که می تواند در رشــد اقتصادی کشــور به صورت چشمگیر کمک نماید.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از ملل متحد و ســازمان های حامی انرژی پاک خواست که در بخش تولید انرژی پاک با افغانستان همکاری لازم نموده و کار پروژه های

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباد ي اوونيزه
هفته نامه آبادی

ناتمام در این بخش را آغاز نماید.

زیرا به گفته وی، افغانستان از جمله کشور های جهان است که از تغییر اقلیم متضرر شده، در حالیکه در تخریب اقلیم هیچگونه فعالیت را انجام نداده است.

در اخیر محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء از تمامی سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی خواست و به آنان اطمینان داد که امارت اسلامی به سرمایه‌گذاری و تلاش آنان در تمامی بخش ها بخصوص در بخش تولید برق خوش آمدید گفته و در فراهم اوری تسهیلات لازم همکاری می کند.

قابل یاد اوریست که در پروژه تولید ۲۲،۷۵ میگاوات برق شرکت ۷۷ ترکی و شرکت زولرستان داخلی ۱۸ میلیون دالر سرمایه‌گذاری نموده، که کار آن در جریان یک سال تکمیل و تاحدی مشکل کمبود برق پارک های صنعتی کابل و شهروندان حل خواهد نمود.

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د امام ابوحنيفه درېيم ملي او نړيوال نندارتون پرانيستل شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د ميزان مياشتې په ۱۵مه نېټه د امام ابوحنيفه درېيم ملي او نړيوال نندارتون پرانيستل شو. په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو کې د کابينې يوشمېر محترمو غړو، د ايران، ترکيې، قطر او پاکستان هېوادونو ډيپلوماتانو، سوداګرو او همدا راز د افغانستان د خصوصي سکټور استازو ګډون کړی وو.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، په سيمه‌ييزه او نړيواله سوداګرۍ کې هر هېواد د خپلو محصولاتو او توليداتو پر اساس ځانګړی ځای او اهميت لري او د نړۍ هېوادونه کوښښ کوي چې د خپلو توکو لپاره په پراخه کچه بازار پيدا کړي. د محترم ملا صاحب په خبره، د هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو اړيکو د پراخولو او خپلو توکو ته د بازارموندلو يوه تر ټولو ښه لاره نندارتونونه دي، چې له نېکمرغه د درېيم ځل لپاره په کابل کې د امام ابوحنيفه ملي او نړيوال نندارتون پرانيستل کېږي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، په دغه نندارتون کې پر افغاني محصولاتو او توليداتو سربېره د يوشمېر بهرنيو شرکتونو مهم او باکيفيته توليدات او محصولات هم نندارې ته وړاندې شوي دي چې دا به د دواړو لورو ترمنځ سوداګريزې اړيکې لا پراخې کړي او د ګډې بازارموندنې په برخه کې به مهم فرصتونه رامنځته کړي.




محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ټولو بهرنيو شرکتونو استازو او پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت د متقابلې اړتيا پر بنسټ د سوداګريزو تعاملاتو او اړيکو پراختيا او پياوړتيا ته پوره ژمن دی او په دې برخه کې به هېڅ ډول خنډ او ځنډ نه رامنځته کېږي. محترم ملا صاحب د دغه نندارتون له لارې پر ټولو پانګوالو غږ وکړ چې افغانستان پوره امن او د هر ډول پانګونې لپاره مساعد دی. اسلامي امارت په ټوله معنا د پانګونې په ځانګړې توګه د بهرنۍ پانګونې د جذب لپاره کلک هوډ لري او پانګوال کولی شي په ځانګړي ډول د بسته‌بندۍ معياري مرکزونو او همدا راز د سړو خونو په جوړولو کې پانګونه وکړي، څو له دې لارې افغاني توکي په نړيواله کچه ښه بازار ترلاسه کړي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امام ابوحنيفه درېيم ملي او نړيوال نندارتون د هېواد د اقتصادي ودې او سوداګريزو تعاملاتو او اړيکو په پياوړتيا کې مهم وباله او هيله يې وښوده، چې له دې لارې به د افغانستان او نړۍ هېوادونو ترمنځ سوداګريز تعامل لا زيات او پياوړی شي.

د يادونې وړ ده چې له دې وړاندې هم د امام ابوحنيفه لومړی او دوهم ملي او نړيوال نندارتونونه په کابل کې جوړ شوي وو. د امام ابوحنيفه په درېيم ملي او نړيوال نندارتون کې په ۷۰۰ غرفو کې بېلابېل صنعتي توليدات او کرنيز محصولات نندارې ته ايښودل شوي چې ۲۰۰ يې بهرنيو شرکتونو ته ځانګړې شوي دي.

# په کابل کې د ۲۲,۷۵ مېګاواټه لمريزې برېښنا پروژې د کار پيل پرانيست‌غونډې ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وينا

الحمد لله و کفی و سـلام علی عباده الذين اصطفی، اما بعد!

فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم،

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالی: و لقد زينا السماء الدنيا بمصابيح

د افغانستان د برېښـنا شرکت محترمو مسوولينو، د ۷۷ او زولرستان شرکتونو ښاغلو استازو او محترمو مېلمنو!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته !

د خوښۍ ځای دی، چې نن ورځ د پاکې انرژۍ د توليد په برخـه کې يو بل ډېـر مهم ګام اخلـو او د کابل سروبي ولسوالۍ کې د نغلو لمريزې برېښـنا د توليد د يوې داسې مهمې پروژې پرانيسته کوو، چې نه يوازې د اقليمي بدلون پر وړاندې زمـوږ د هېواد مقاومت زياتـوي او د پاکې او پايښـت لرونکې انرژۍ په برخه کې د افغانستان اړتيا پوره کـوي بلکې د نړيوال اقليم په پاک سـاتلو کې هم لازمه مرسته کوي.

دغه پروژه د افغانستان اسلامي امارت د برېښنا شرکت، د ۷۷ او زولرسـتان شرکتونـو ترمنځ د عامـه او خصوصي مشارکت د قرارداد له مخې پيلېږي، چې ۲۲,۷۵ مېګاواټه توليدي ظرفيت لري.

دا چې افغانستان له پخوا راهيسې په وارداتي برېښنا متکي دی او زموږ د ملي بوديجې زيات رقم د وارداتي برېښنا په مقابل کې ورکول کېږي، په داسـې حال کې چې له بهر واردېدونکې برېښـنا له يـوې خوا د هېواد لپاره قيمتي تماميږي او له بلـې خوا پايداره او دوامداره سرچينه نه ګڼل کېـږي. له همدې امله د هېواد په داخل کې د برېښـنا د توليد دا ډول پروژې کولـی شي، چې په تدريجي توګه د بهرنيو هېوادونو پر برېښنا زموږ اتکا راکمه کړي او د داخلي منابعو څخه په غوره ګټه اخيسـتنې سره د خپلې برېښـنا څښتنان شو.

له لمريزې برېښـنا څخه د انرژۍ د توليد دا ډول پروژې د انرژۍ ارزانه سرچينې تأمينوي، د ناکاره ګازونو د توليد مخه نيسي، د اقليمـي بدلونونو پر وړاندې مبارزه کې مرسـته کوي. د انرژۍ په برخه کې ثبات او پايداري رامنځته کوي، په هېواد کـې د پانګونې مقـدار، توليـدي ظرفيت او د اسـتخدام کچه لوړوي، د اسعارو د وتلو مخه نيسي او په لويه کې د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسـته کوي.

يوه ډېره مهمه خبره چې بايد دلته ورته اشاره وکړم، دا ده چې افغانسـتان د نړيوال اقليم په تخريب کې هېڅ ډول ونډه نه ده اخيسـتې؛ لـه بله اړخه افغانسـتان د نړۍ د هېوادونـو په ځانګړې توګـه د لويو صنعتـي او توليدي هېوادونو د اقليمي تاثيراتو څخه متضرر شـوی دی، دا په داسې حال کې ده چې د اسلامي امارت په حاکميت سره ډېـرې د پاکې انرژۍ د توليد هغه پاتې پروژې چې په تېر نظام کې پيل شوې وې متوقفې شوې دي.

زه لـه دې ځايه په ملګرو ملتونـو او د پاکې انرژۍ ملاتړ کوونکو نړيوالو سازمانونو باندې د يو ګډ مسووليت له مخې غږ کوم چې له افغانسـتان سره د پاکې انرژۍ د توليد په برخه کې لازمه همکاري وکـړي او په هېواد کې متوقفې شـوې پروژې له سره څخه پيل کړي؛ ځکه افغانستان له يوې خوا له نړيوال اقليم متضرر دی او له بلې خوا د نړيوال اقليم په تخريب کې په هېڅ ډول سهيم نه دی. د نړيوال اقليم سـاتنه بې له کومې اسـتثناء د ټولـو هېوادونو ګډ مسووليت دی او پرته له استثناء ټول هېوادونه ترې متاثره دي. بناً دغه ګډ مسووليت ګډې همکارۍ ته اړتيا لري.

لـه همدې ځايه ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته دعوت او ډاډ ورکوم چې اسـلامي امارت مو په هر مورد په ځانګړې ډول د برېښنا په توليد کې هر ډول سرمايه ګذارۍ او هڅو ته هرکلی وايي او د لازمو اسانتياوو په برابرولو کې مرسته درسره کـوي. د پانګونـې بـين الـوزارتي کمېټه چې د اقتصادي معاونيت تر چـتر لاندې فعاليت کوي او د ټولو ذيدخلو وزارتونو اسـتازي غړيتوب په‌کې لري، د پانګونې چټک ادرس دی چې له پانګوالو سره د پروسـو په ترسره کولو کې لازمه او مؤثره مرسته کوي.

د افغانستان برېښـنا شرکت، ۷۷ او زولرستان شرکتونو له محترمو مسـوولينو او نورو دخيلـو اړخونو څخه زياته مننه کـوم، چې د دغې مهمې پروژې د پيل لپاره يې د عامه او خصوصي مشـارکت قرارداد لومړني مراحل په برياليتوب تـرسره کړل. هيله لرم چې د پروژې عملي چارې به د ټولو منل شويو معيارونو سره سـمې پرمخ ولاړې شي. په پای کې ټولو هېوادوالـو ته د دغه مهمې پروژې د پيل له امله ډېره مبارکي وايم.

و السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه آبادي
هفته‌نامه آبادی

# SPEECH BY THE DEPUTY PRIME MINISTER FOR ECONOMIC AFFAIRS AT THE INAUGURATION OF THE 22.75 MW SOLAR POWER PROJECT IN KABUL




In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.

Respected officials of Da Afghanistan Breshna Sherkat, esteemed representatives of 77 Construction Company and Zolaristan Company, and honored guests,

Peace and blessings be upon you all.

It is a matter of great joy that today we are taking another significant step in the field of clean energy production. We are inaugurating an important project in Sarubi District, Kabul—the Naghlu Solar Power Project. This initiative not only strengthens our nation's resilience against climate change and addresses Afghanistan's need for sustainable, clean energy, but it also contributes significantly to global efforts in preserving the environment.

This project is being launched under a Public-Private Partnership (PPP) agreement between Da Afghanistan Breshna Sherkat and the 77 and Zolaristan Companies. It will have a production capacity of 22.75 megawatts.

Historically, Afghanistan has been heavily dependent on imported electricity, with a significant portion of our national budget allocated for the payment of imported power. Not only is imported electricity costly for our country, but it is also not a reliable or sustainable source. For this reason, projects like this, which generate electricity domestically, can gradually reduce our reliance on foreign energy. By utilizing our internal resources more efficiently, we can become self-reliant in energy production.

Projects like this one, which harness solar energy, provide an affordable energy source, reduce the emission of harmful gases, help in combating climate change, and ensure energy stability and sustainability. Moreover, such projects increase investment, production capacity, and employment opportunities in the country, prevent the outflow of foreign currency, and significantly contribute to the overall economic growth of the nation.

A key point I want to emphasize here is that Afghanistan has played no role in the global climate crisis. However, our country has suffered the negative impacts of climate change caused by major industrial and manufacturing nations. Unfortunately, many clean energy projects that were initiated under the previous regime have been halted under the Islamic Emirate's rule.

From this platform, I call on the United Nations and international organizations supporting clean energy to take collective responsibility and collaborate with Afghanistan in the production of clean energy and the resumption of suspended projects. Afghanistan has been a victim of global climate change, yet has not contributed to its deterioration. Protecting the global climate is a shared responsibility of all nations, without exception, and requires collective cooperation.

From this stage, I extend an invitation and assurance to all domestic and foreign investors that the Islamic Emirate warmly welcomes any efforts and investments, particularly in the energy sector. We are ready to provide the necessary facilities. The Inter-Ministerial Investment Committee, which operates under the Office of the Deputy PM for Economic Affairs and includes representatives from all relevant ministries, serves as a swift point of contact for investors, providing effective assistance throughout the process.

I would like to express my gratitude to the officials of Da Afghanistan Breshna Sherkat, 77 Construction Company, and Zolaristan Company, as well as all involved parties, for successfully completing the initial stages of the PPP contract for this vital project. I hope that the practical execution of the project will proceed according to all accepted standards. In conclusion, I extend my heartfelt congratulations to all our fellow citizens on the commencement of this important project.

Peace and blessings be upon you all.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه ابادي
هفته نامه آبادی


# THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS INAUGURATED THE COMMENCEMENT OF WORK ON THE 22.75-MEGAWATT SOLAR POWER PROJECT



On October 8, 2024, the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, inaugurated the commencement of the practical work for the 22.75-megawatt solar power project near the Naghlu Dam in the Sarubi district of Kabul province.

The inauguration ceremony was attended by several cabinet members, the Ambassador of Turkey to Afghanistan, officials from Da Afghanistan Breshna Sherkat, representatives from the private sector, and numerous local citizens.

During the ceremony, Deputy PM Mullah Baradar Akhund highlighted the importance of clean energy, stating that it is a moment of joy to begin a project that will not only strengthen Afghanistan's resilience in environmental protection and meet the country's energy needs but also contribute to global efforts in maintaining a cleaner climate. He emphasized: "Such electricity generation projects can gradually reduce our reliance on imported electricity and enable us to meet our needs using domestic resources."

The Deputy Prime Minister further added that solar energy projects of this nature will increase investment, production capacity, and employment in the country. Additionally, they will prevent the outflow of currency, significantly contributing to the nation's economic growth.

He also called on the United Nations and international organizations that support clean energy to provide necessary cooperation with Afghanistan in producing clean energy and to resume the suspended projects in the country. He pointed out that Afghanistan is one of the countries most affected by climate change, despite having no role in contributing to it. He stressed that protecting the global climate is a shared responsibility of all nations, and every country is affected without exception. Therefore, this shared responsibility requires collective cooperation.

In conclusion, the Deputy PM extended an invitation and assurance to both domestic and foreign investors, emphasizing that the Islamic Emirate welcomes any investment and initiatives, particularly in the energy sector, and will provide necessary support and facilities for them.

It is worth mentioning that the 22.75-megawatt solar power project, being implemented by the 77 Turkish company and the local Zolerstan company, involves an investment of approximately $18 million. The project is expected to be completed within a year and will help address the electricity issues in Kabul's industrial parks and for local citizens to a significant extent.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۶۷,۰۵؋ | ۶۷,۱۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۲؋ | ۲۳۲؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۲۱؋ | ۱,۲۲؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۳,۴۱؋ | ۷۳,۴۷؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۰؋ | ۰,۷۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۹۷؋ | ۷۹۷؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۸۷,۶۳؋ | ۸۷,۶۹؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷,۸۶؋ | ۱۷,۸۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۲۵؋ | ۱۸,۲۷؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۴۹؋ | ۹,۵۰؋ |